مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سید عبیدالله نادر
۲۰۲۲/۱۱/۲۸

# د پاخون شور

په باغ و بڼ، خوند لـــــــه ګلانو تللی
شــــور د پاخون له بلبـــــلانو تللی

بو ی د بهـــــــــبود له دي چمن وتلی
اثر د مـــهر، له ګـــلرخـــانو تللی

چې وو، خوبانو کـي رنـګين مخــونه
اوس يي ښايســــــت لـــه دلبرانو تللی

د حرص و تمی دی، حکومت په زړونو
اختـــــيار د نفـــس لـــه رهبرانو تللی

نشته مالیار چي شي غمخـوار د چـمن
احساس او درد، لـــه غمخـــوارانو تللی

اغيار حســــــد کي، دا چمـــن ورانوی
شعور او درک، له هو ښيـــارانو تللی

وي مصــــيبت عـلاج، درد منـــو په لاس
حسـن تدبير، لـــــه عالمــــانو تللی

سيد عبيدالله نادر
کال ۱۳۷۶پيښاور


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ